# د قلندر مومند
# افسانوي کردارونه د سماجي نفسياتو هينداره

**Dr. Javed Iqbal***

**ABSTRACT:**

*Qalandar Momand is the unique short story writer of the second period of Pashto short story. "Gujray" is the collection of his short stories. The stories have been critically analyzed in the different session of Ulasi Adabi Jerga. In this research paper the author has critically analyzed the short stories of "Gujray" from a perspectives of Psyco-Social analysis. This paper opens new avenues of literary criticism and discussions for the upcoming pashto researchers in the domain of fiction.*

قلندر مومند د شلمې صدۍ د يو معتبر شاعر، نقاد، محقق او صحافي نه علاوه د خپل عصر يو جوت او منفرد افسانه نګار هم ګڼلې شي، د هغۀ افسانې د مقدار په لحاظ خو ډېرې نۀ دي خو د معيار په لحاظ يې ډېر اهميت ترلاسه کړې دې ګجرې د هغۀ ايکې يوه مجموعه ده چې په وړومبي ځل په کال ۱۹۵۸ء کښې چاپ شوې ده او په دوېم ځل په اګست ۲۰۰۱ء کښې د دوو افسانو د اضافې سره چاپ شوه، دغه شان په دې مجموعه کښې د هغۀ ټولې څوارلس افسانې شاملې دي چې د پښتو افسانوي ادب کښې يې ډېر ځرګند او اهم مقام موندلې دې.

د قلندر مومند افسانه نګاري په مجموعه توګه د پښتو افسانوي ادب په مېدان کښې يوه د قدر وړ اضافه ګڼلې شي او د هغۀ د افسانو مجموعې

* Assistant Professor, Department of Pashto, UOB, Quetta

معيار د هغهٔ د افسانوي تېکنيك او موضوعاتي مقصديت په حواله همېشه ستائيلې شوي دي خو مونږ په دې مقاله کښې د هغهٔ د افسانوي تېکنيك نخښې او د هغهٔ د موضوعاتو مقصديت د هغهٔ د افسانوي کردارونو په حواله د ځرګندولو هڅه کوو او د دغه زاويې نه د هغهٔ د افسانو په اهميت او مقام تبصره کوو.

د قلندر مومند د افسانوي کردارونو د انفراديت او اهميت جوتولو دپاره دا هم ضروري دي چې د هغهٔ د افسانو مجموعي تذکره هم وشي او بيا دا وکتلې شي چې قلندر صاحب خپلو افسانوي کردارونو سره څومره انصاف کړې دې او څومره يې د افسانوي تېکنيك ځرګندونه کړې ده.

مونږ چې د قلندر مومند د افسانوي کردارونو جاج اخلو نو په وړومبي نظر کښې راته د معاشرې د پرېوتې طبقې، غريب، مفلس، نادار، مظلوم او محنت کش په شکل کښې ځنې کردارونه مخې ته راځي چې د ټولنې مجموعي کړهٔ وړهٔ را مخې ته کوي. د ټولنې دغه مجموعي کړهٔ وړهٔ او غرزې پرزې زمونږ نقادان د ترقي پسند ادب او مقصديت بنيادي رخ ګڼي، دا خبره درسته هم ده خو دغو کردارونو ته که د نفسياتي زاوئې نه وکتلې شي نو هم دغه ټولنيزې روئيې چې د مختلفو کردارونو په ذريعه رامخې ته کيږي دې ته د سماجي نفسياتو ترجمان کردارونه هم وئيلې کېدې شي، يا داسې هم وئيلې کېدې شي چې دغه کردارونه د ټولنې مجموعي نفسيات هم رامخې ته کوي.

هرکله چې د نفسياتو خبره کيږي نو وئيلې شي چې دا د انساني داخلي کېفياتو ترجمانۍ سره تعلق لري او د انسان د خارج دنيا د معاشرتي علومو يا عمرانياتو (Sociology) سره تعلق لري، خو که غور وکړې شي نو د انسان داخلي دنيا او خارجي دنيا د يو بل نه کله هم بېلېدې نهٔ شي. ادب د انسان د دغو دواړو داخلي او خارجي جهانونو ترجمان وي ځکه چې ادب د ژوند ترجمان دې او ژوند د انسان داخلي کېفياتو او خارجي عواملو دواړو سره سروکار لري، په دې بنياد په افسانوي ادب ډرامه، ناول او افسانه کښې کله

چې د کردارونو په ذریعه د ټولنیزو عواملو نه اګاهي ترلاسه کیږي نو دا دواړه انساني اړخونه داخلیت او خارجیت راجوت شي او دغه شان د نفسیاتو (Psychology) او عمرانیاتو (Sociology) امتزاجي رنګ د ادب په ذریعه را وړاندې شي، هم دغه انداز مونږ د قلندر مومند په افسانوي کردارونو کښې هم وینو او د دغه انداز د جاج نه وړاندې د ادب او نفسیاتو، ادب او ټولنې، ادب او اخلاقي قدرونو لږ وضاحت هم ضروري ګڼو، ځکه چې د دغو وضاحتونو نه بغېر د انساني کردارونو داخل ته ورکوزېدل ګران دي.

هرکله چې مونږ په دې غور کوو چې هر کردار د ټولنې د مجموعي اخلاقي قدرونو نه سر پورته کوي نو په دې نتیجه رسېدل هم اسان شي چې د فن کار، تخلیق کار یا شاعر او ادیب احساس هم د دغه مجموعي اخلاقي قدرونو ترجماني د فن او تخلیق په شکل کښې کوي. دې خبرې ته د اردو نامور نقاد او نفسیات دان ډاکټر سلیم اختر په دې ټکو اشاره کوي:

"اخلاق بھی اعصابی خلل کا ارتقائی روپ ٹھہرا اور تخلیق بھی اعصابی خلل کا ثمر قرار پائی تو پھر یہ دونوں ایک ہی سکے کے دو رخ بن جاتے ہیں' فرق صرف یہ ہے کہ معاشرتی اقدار' بدلے تمدنی حالات اور تہذیبی تقاضے اخلاق اور تخلیق میں ایسی مغائرت پیدا کر دیتے ہیں کہ یہ دونوں سکے کے دو رخ ہونے کے برعکس بسا اوقات مدِ مقابل نظر آتے ہیں' نفسیات اس سکے کے کھرے کھوٹے ہونے کی پرکھ کرتی ہے"(۱).

ډاکټر سلیم اختر د اخلاقي قدرونو د تخلیق په شکل کښې د مجموعي اظهار خبره کوي او دغه اظهار د فنون لطیفه په هر صنف یا هر تخلیق لکه مصوري، سنګ تراشي، موسیقي وغېره په شکل کښې کېدې شي خو زمونږ کار د قلندر مومند افسانوي کردارونو سره دې او دغه کردارونه د ادب د یو تخلیقي صنف افسانې سره تعلق لري ځکه مونږ باید چې د دغو اخلاقي قدرونو یا سماجي نفسیاتو د اظهار رشته د ادب سره هم څرګنده کړو، هرکله چې د دادب او سماجي نفسیاتو د تعلق څرګندونه کیږي نو ورسره دا خبره هم مخې ته راځي چې د نفسیاتي اظهار په دواړو اړخونو داخلیت او خارجیت خبره

وۀ شي دغه وضاحت مونږ د ډاکټرحنيف خليل په الفاظو په دې توګه کولې شي.

"د ادب تعريف چې د ډېرو ګڼو اخلاقي تعريفونو نه پس په مشترکه توګه په کوم شکل شوې دې هغه دا دې چې ادب د داخلي احساس او ادراك د اظهار نوم دې او يا ادب خارج کښې د موجودو مسئلو د ترجمانۍ نوم دې او په پراخه پېرايه کښې د فن تعريف هم په دغه دوو مشترکه شکلونو شوې دې چې فن د داخلي احساس اظهار دې يا د معروض عکاسي، د وړومبي تعريف له مخې خو د ادب ټوله اډانه په نفسياتو ودريږي، يعني په نفسياتو کښې چې د کوم داخلي قوت مطالعه کيږي په ادب کښې د دغه داخلي قوت اظهار کيږي، په دې حساب ادب او نفسيات بېخي له يو بله بېلېدې نۀ شي او که د ادب يا فن په دوېم تعريف غور کوو چې ادب د خارجي شواهدو د ترجمانۍ نوم دې نو بيا هم په مجموعي توګه ادب له نفسياتو نه خالي کېدې نۀ شي، ځکه چې د معاشرې يو مجموعي نفسياتي پس منظر هم وي يعني د معاشرې د افرادو اجتماعي خصلتونه، کړۀ وړۀ، رجحانات او تحريکات په اجتماعي نفسياتو کښې راځي کوم ته چې د نفسياتو عالمانو معاشرتي نفسيات وئيلي دي"(۲).

د دغو وضاحتونو نه پس مونږ ته ځنې اهمې نکتې را مخې ته کيږي چې هغه په دې ډول دي:

(۱) ټولنه په اخلاقي قدرونو ولاړه وي او مخ په وړاندې سفر کوي.

(۲) د دغو قدرونو او سماجي نفسياتو اظهار په فنون لطيفه کښې کولې شي چې د فن کار يا تخليق کار وظيفه ده.

(۳) ادب د دغو فنون لطيفه د ټولو نه مؤثره ذريعه ده چې د سماجي نفسياتو ترجماني کوي.

(۴) افسانه د ادب يو داسې تخليقي صنف دې چې د مختلفو کردارونو په ذريعه د ټولنې دغه اخلاقي قدرونه او سماجي نفسيات زمونږ مخې ته راولي.

اوس په دغه تناظر کښې د قلندر مومند د افسانو په نفسياتي اړخ او د کردارونو په کړۀ وړۀ په اسانه بحث کېدې شي او دا په اسانه څرګندېدلې شي چې د قلندر کردارونه د سماجي نفسياتو هېنداره دي.

د قلندر صاحب د افسانو په حقله عموماً د نقادانو رائې دا پاتې شوې ده چې د هغۀ افسانې د ترقي پسند ادب او مقصديت يا حقيقت نګارۍ ترجمانې دي خو د دغه مقصديت، حقيقت پسندۍ يا ترقي پسندۍ تر شا چې کومه محرکه جذبه ده هغې ته ډېرو کمو ليکوالو اشارې کړې دي او هغه محرکه جذبه د سماجي نفسياتو ترجماني ده چې قلندر صاحب د مختلفو کردارونو په ذريعه کړې ده او په دغه کردار نګارۍ کښې د هغۀ د ژورې مشاهدې ډېر لوې کردار دې د دغه پس منظر د وضاحت دپاره وړومبې خو د ګجرې د مقدمه نګار دوست محمد خان کامل مومند رائې پېش کول ضروري ګڼم چې د قلندر صاحب د افسانو په حقله يې په مجموعي توګه پېش کړې ده. کامل صاحب ليکي:

> "د قلندر صاحب د افسانو موضوع او محرکه جذبه اکثر معاشي ناهموارۍ، له هغو پيدا کېدونکې خرابۍ او د هغوې خلاف د اولس په مرسته کښې د غزا خواهش دې په يوه نيمه افسانه لکه "شرم" کښې د اولسي معاشرې د روايتي خرابو هم عکاسي شوې ده، قلندر د اولسي ادبي جرګې يو مخلص او فعال غړې دې او د جرګې پاليسۍ سره سم همېشه يې ادب د ژوند دپاره ګڼلې او د اولسي مقاصدو او مفادو دپاره يې د ادب تخليق کړې دې او د نظر لاندې ټولې افسانې به هيله ده چې زما د دې دعوې په رښتياوو ګواهي شيي"(۳).

کامل صاحب د قلندر صاحب د يوې افسانې "لړګې" نفسياتي اړخ ته هم اشارې کړې دي او د دغه افسانې نفسياتي رجحان يې را مخې ته کړې دې. هغه ليکي:

د نوعیت یا قسم په لحاظ زما په خیال د دې مجموعې تقریباً ټولې افسانې ماحول سره تعلق لري یا په نورو توریو کښې د ماحول عنصر په کښې زیات غالب او جوت دې

"یوه افسانه "لړګې" نفسیاتي رنګ هم لري، خو په افسانه کښې چې کوم اخرې نفسیاتي اثر یا نتیجه بیان شوې ده په هغې افسانه کښې مونږ سره د واقعاتو شهادت نۀ شته، د هغې د منلو دپاره په ځاې په پلاټ د اظهار کولو به مونږ صرف د افسانه لیکونکي په وېنا اکتفا کوو"(۴).

خو کله چې کامل صاحب د دغه افسانې نفسیاتي تجزیه کوي نو د قلندر صاحب په مشاهده او د کردار نګارۍ په مزاج تنقید هم کوي هغه خپله دغه تجزیه کښې وايي:

"د افسانې مرکزي کردار غنم رنګ چې خوار غریب دې د خپل شتمن او خوشحاله مشر مېړني ورور داؤد د زور زیاتي لاندې کښېوتې دې او له داؤد اکثر څۀ دغه شان خبرې اوري نامړده! ما سره سیالي کوې تۀ دې خپل شکل ته وګوره او ما ته هم. تۀ دې خپلې ستې ته وګوره او زما متهو ته هم، تۀ دې خپلې هستۍ ته هم وګوره او زما سره د سیالۍ خیال ته هم نظر وکړه کم عقله - غنم رنګ کښې د کهترۍ احساس پیدا کیږي او زړۀ کښې یې دا وئیره ځاې نیسي چې د هغۀ غوندې خوار او بدرنګه سړي سره به څوك مینه وکړي او اخر کښې د کهترۍ دغه احساس هغه د یوې واقعې په ائینه کښې ویني او دې نه پس افسانه لیکونکې مونږ ته وايي، د هغۀ له وجود نه لکه چې ساه وتې وي هغه لړګې شۀ بالکل وچ لړګې او په دیو الفاظو افسانه ختم شي. چې مونږ د افسانې وړاندې وروستو نظر واچوو نو آیا د وچ لړګي کېدو نه مراد نفسیاتي طور سره د رجولیت نه

محرومي خو نۀ دې؟. که وي نو چې غنم رنګ په تيارۀ کښې د پريګۍ اواز واورېد او بيا يې داؤد وليدۀ نو د هغې نه پس څۀ وشو چې مونږ غنم رنګ وچ لرګې وګڼو، او که وچ لرګې په معمولي معنو کښې استعمال شوې وي نو بيا خو نفسياتي حادثه نۀ ده شوې او خبره هم معمولي ده"(**۵**).

ښاغلي اياز داؤدزي د کامل صاحب تنقيدي رائې سره اختلاف کړې دې او د قلندر صاحب ذکر شوې افسانه يې د ګجرې تر ټولو ښه افسانه ګڼلې ده، د دغه افسانې په دفاع کښې اياز داؤدزي صاحب خپل تنقيدي نظر په دې ټکو څرګند کړې دې.

"بله د حېرت خبره دا ده چې کامل صاحب د دې مجموعې د ټولو نه ښه افسانه "لرګې" باندې شك ښکاره کړې دې چې ګني په فني لحاظ په دې افسانه کښې څۀ کمې محسوسيږي وائي چې د افسانې اخري اثر دپاره په افسانه کښې د واقعاتو شهادت نۀ شته د کامل صاحب د دې وينا نه پس بنده په دې مجبوروي چې دغه افسانه بيا بيا ولولي. د افسانې د بيا بيا لوستو نه څۀ عجيبه عجيبه حقائقو سره بنده اشنا کيږي، په يو نظر چې دې قيصې ته ګورو نو قيصه نفسياتي مطالعه ښکاري. بيا يې چې لولو نو قيصه يوه مسلسل استعاره لېدې شو خو يوه خبره څرګنده ده او هغه دا چې په افسانه کښې د واقعاتو شهادت په جسماني طور پېش کولو ضرورت نۀ وي واقعاتو ته اشاره هم کافي ګڼلې شي، افسانه نګار ډېر څه د لوستونکي تصور نۀ پرېږدي هم دغه د افسانې خصوصيت وي... د غنم رنګ مشر ورور داؤد يو علاماتي شخصيت دې، د غنم رنګ د هغه وئېرې علامت دې چې د هغۀ په حسياتو په غېر شعوري طور سوارۀ وو. په تيارۀ کښې چې غنم رنګ د پريګۍ اواز واورېدو نو دغه اواز هم

علامتي دي د هغۀ د چقولو شوو ارمانونو د سر را پورته کولو علامت او په دغه وخت د دواړو راتلل د شين اسمان شرق ؤ، لکه په خوب کښې په بنده ناګهانه خپسه کښېني نو بيا څۀ وي سړې ابغ نبغ وچ لرګي شي... دا يو عجيبه کېفيت دې يو عجيبه مشاهده ده، يوه بې مثاله تجربه ده چې د بيان نه زيات د تجربې حاجت لري او که دا رنګه تجربه د چا په ژوند کښې راغلې وي نو د قلندر په عظمت به قائل شي"**۲**.

د کامل صاحب او اياز داودزي صاحب خبرې په خپل ځاې درستې دي ځکه چې دغو دواړو نقادانو د بېلو بېلو زاويو نه د افسانې تجزيه کړې ده او خپل خپل تاثر يې لوستونکو ته وړاندې کړې دې، دغه تجزئي او نتيجې مختلفې هم کېدې شي ځکه چې په ادب او په تېره تېره افسانوي ادب کښې ضروري نۀ ده چې د يوې فنپارې په باب دې د ټولو نقادانو نتيجې يو شان وي، لرګې افسانه په بنيادي توګه يوه نفسياتي او علامتي افسانه ده، دغه افسانه په ظاهره خو د ابلاغ کومه مسئله نۀ لري ولې په مختلفو لوستونکو نوې نوې معنوي انکشاف ضرور کوي او زما په خيال دا د دغه افسانې تر ټوله اهمه خوبي ده چې بغېر د کوم ابهام نه د سماجي نفسياتو پوره پوره ترجماني کوي، مونږ چې کله د قلندر مومند د افسانو او افسانوي کردارونو مطالعه کوو نو صرف دغه يوه افسانه او يو کردار د سماجي نفسياتو ترجماني نۀ کوي بلکې د هغۀ ټول کردارونه د دغه رجحان عکاسي کوي، د قلندر په افسانو ايوب صابر ډېره مناسبه تبصره کړې ده چې په کښې يې د هغۀ د افسانو په عمومي مزاج، حقيقت پسندئ او ترقي پسند رجحان، معاشرتي عکاسئ، کردارنګارئ، تېکنيك او فنکارئ تبصره کړې ده هغه ليکي چې:

"ان کے اکثر افسانوں کے موضوعات اور ان موضوعات کا% تہہ میں محرک جذبہ اکثر معاشرº ناہمواریاں ان سے پیدا ہونے والº معاشرتº خرابیاں اور نچلے طبقے کا% حمایت میں جہاد کرنے کا% خواہش رہا ہے، ان کے تمام افسانے اس ماحول سے متعلق ہیں جس میں وہ خود زندگ% بسر کر رہے ہیں ان کے تمام افسانوں کے

> پلاٹ اچھوتے مگر روزانہ زندگ% کے اصل° عکس ہوتے ہیں وہ افسانے میں زندگ% پیدا کرنے ک% ایسہ° مہارت رکھتے ہیں کہ ان کا ہر افسانہ ایک آپ بیہ° معلوم ہوتا ہے یا ایک ایسہ° جگ بیہ° جس میں افسانہ نگار خود بھ° ایک کردار ک% حیثیت سے شامل ہوتا ہے... ان کے افسانوں میں کہیں کہیں نفسیات° رنگ بھ° غالب نظر آتا ہے جیسے ایک افسانہ لڑک% میں ہے کہیں کہیں انہوں نے پشتونوں کے عوا° معاشرے ک% خرابیوں ک% بھ° عکاسہ° ک% ہے جیسے ایک افسانے شرم میں موجود ہے، ان کے افسانوں میں دیگر خوبیوں کے علاوہ بنیاد° خوب° یہ ہوت° ہے کہ وہ ہر افسانے کے نقطہ عروج پر پہنچ کر خود الگ ہو جاتے ہیں اور قار° کو اس سوچ میں گھلنے کیلئے اکیلا چھوڑ دیتا ہے کہ اس کے آگے کیا ہے پھر یہ کام قار° کا ہے کہ وہ اپنہ° بساط کے مطابق آگے بڑھے اور افسانے کے اختتام کے بارے میں کوئ° حتم° رائے قائم کرے"7.

د دغه مجموعي رائې په رڼا کښې چې د قلندر صاحب د کردارونو جاج اخلو نو د ټولنې د معاشي لري برې د ترجمانۍ دپاره د هغهٔ هر کردار راته د سماجي نفسياتو ترجمان کردار ښکاري، ډاکټر اعظم اعظم د هغهٔ د افسانوي کردارونو په حقله ليکي:

> "د ګجرې د افسانو اکثر کردارونه د ظالمې معاشرې په ژرنده کښې دل شوي هغه مظلوم انسانان دي چې د خپلې بدحالۍ او بربادۍ شعور خو لري ولې د خپل مړ ژوندي حالت د بدلولو په بند بنا نۀ پوهېږي، غنم رنګ، حبيب ماما، سرورې، عزيز او نباتې ټول هم په مختلفو ماحولو کښې راګېر د حالاتو څپېړ وهلې مخلوق دې دغه واړه د ژوند د بنيادي حقونو په تکل کښې لاس پښې خو وهي خو دغه لاسونه او پښې د ظالمې معاشرې د استحصال په زنځيرونو بند په بند تړلي وي او د دې ټولو کردارونو الميه انجام خو په خپله د لوستونکي په زړهٔ کښې د دغو کردارونو په مرسته کښې يو خاموشه احتجاج را پورته کړي او د احتجاج دغه خاموشه پېرايه په ډېره سره او قلاره لهجه کښې قلندر هر ځاې خپله کړې ده"٨.

د ډاکټر اعظم اعظم او کامل صاحب نه علاوه پروفېسر محمد اسرائیل اشنا هم د قلندر مومند د افسانو مجموعي جائزه د سماجي نفسیاتو په رڼا کښې اخستې ده او لیکلي یې دي چې:

"د قلندر مومند د افسانو په ژورو کښې لاشعوري محرکات دي چې جمله حواس تابع کوي. رښتیا - جذباتي ردِ عمل او خپل ذهني کېفیت په افسانه کښې اغړي.... قلندر جمالیات او افادیت دواړه غواړي، د دوې په خیال زمونږ د ژوند او سماج اډانه په معاش ده.... د دوې فلسفه ادب په دې رده ولاړه ده د سماجي شعور ګڼ شمېر هیئتونه او شکلونه هم دې سره مناسبت لري.... سماجي وجود د دوې شعور ټاکي، د دوې نظر کښې سماجي ژوند د انسان په شعور او نورو عواملو دومره اثر انداز وي ځکه د وخت تعیني عنصر د حقیقي ژوند د تخلیق تجدید کوي، د قلندر په نثري تخلیقاتو کښې دومره زور دې چې د بدلېدونکو ادبي روایاتو په شکست او رېخت کښې انتقادي اقدار د وخت د تغیراتو په سېلاب کښې لاهو کېدې نهٔ شي او د کاڼي د ګټې غوندې به مضبوط ولاړ وي. دغه د قلندر انفرادي خصوصیت دې"۹.

ډاکټر اعظم صاحب د قلندر مومند د افسانوي کردارونو په لړ کښې د حبیب بنام سرکار د حبیب ماما کردار هم د ټولنیزو روئیو، محرومو، غربت او مایوسۍ ترجمان ښودلې دې چې د ټولنې ځنو هغو روئیو ته اشاره کوي کومې چې د سماجي نفسیاتو نه زېږي هغه د دې کردار څرګندونه داسې کوي:

"حبیب بنام سرکار کښې حبیب ماما د بنیادمو د هغې ځپلې طبقې نمائندګي کوي څوک چې ټول ژوند د یو تنکي او کوچني ارمان د پوره کولو په غرض تېر کړي، حبیب ماما د سر په سوري کولو دپاره ټول ژوند د یو کورکي په تکل کښې واړوي خو په دغه

تکل کښې هغه ژوند سر وخوري د کوم د بچ کولو دپاره چې د
نړۍ لکونه کروړونه مجبوره بنیادم د زمانو راسې لاس پښې
وهي"۱۰.

دغه شان چې د قلندر صاحب د نورو کردارونو جائزه اخلو هم راته جوتیږي چې د هغۀ اکثر کردارونه د معاشرتي محرومو نه زیږیدلي د انساني مایوسۍ او بې وسۍ داستان بیانوي چې په حقیقت کښې د هم هغه سماجي نفسیاتو نه زیږیدلې روئیې را مخې ته کوي، مونږ که د هغۀ افسانه "نیمګړې نیمه خوا" کښې د سروري کوچوان کردار ګورو او د دغه کردار د داخلي روئیو تل ته ورکوزیږو نو هم راته څرګندیږي چې سرورې د غربت، مایوسۍ او محرومۍ ځپېړو وهلې د پښتون ماحول او ټولنې یو ژوندې کردار دې چې قلندر صاحب یې د خپلې ژورې مشاهدې په زور پښتني ټولنې ته وړاندې کوي. کامل صاحب د قلندر مومند د یوې بلې افسانې "مبارکې" د ذکر سره سره د نیمګړې نیمه خوا ذکر هم کوي او ورسره د سروري د کردار نفسیاتي روئیې رامخې ته کوي او لیکي:

"زما په خیال د دې مجموعې ټولې افسانې ښې او ښکلې فنپارې دي او د مقصد یا د فن له رویه یوې له په بلې فوقیت ورکول ګران دې خو بیا هم نیمګړې نیمه خوا او ورپسې "مبارکې" ما ته له نورو څۀ خو زیاتې جوتې ښکاري .... په وړومبۍ افسانه کښې ابتدا د سروري یو خوار مزدور کوچوان چې د اسپې د ناجوړتیا له کبله د مزدورۍ نه هم پاتې شوې دې کور ته د راننوتو او د خپل کوچني رنځور زوې جاني تپوس سره کیږي څنګه دې جانې؟. هغۀ خپلې ښځې ته وکاتۀ په داسې حال کښې هم د خان د بېګار نه نۀ خلاصیږي او چې ترې اوزګار شي او د وښو دوه پنډونه وکړي او چې دیو په دوولسو انو د خرڅولو نه پس زوې له دارو واخلي نو هسپتال ته د اسپې کتلو له لاړ شي نو اسپه یې مرداره شوې وي

او سروري ته د هسپتال نوکران وايي، څه کاکا خداې دې درته نور خبر کړي او بچې د بچو د سر صدقه دې شه"۱۱.

په دې افسانه کښې د کردار نګارۍ د اعلٰې فني جوړښت نه علاوه قلندر صاحب د افسانې خاتمه په داسې انداز کوي چې يو خوا خو د افسانې موضوع په مجموعي توګه لوستونکو دپاره د تجسس او تلوسې سبب جوړيږي نو بل خوا د سروري کردار هم لوستونکو ته د سوچ او فکر دعوت ورکوي چې لوستونکي د ټولنې په جبر او ناوړه روئيو هم غور وکړي، دغه شان د قلندر صاحب په افسانه ګجرې کښې د شېرينۍ کردار که د ټولنې يو داسې کردار دې چې د معصوميت د ناپوره ارزوګانو په طمع نيمګړې نيمه خوا پاتې کيږي نو ورسره د معصومې شېرينۍ د پلار شېردل کردار هم د بې وسۍ او ټولنيز جبر ترجماني په داسې انداز کوي چې د حساس انسان داخلي دنيا او جذبات رالړزوي. په دې افسانه کښې هم قلندر صاحب د شيرينۍ او شېردل د کرداري خصوصياتو داسې ترجماني کوي چې د افسانې په اختتام لوستونکي د دغو دواړو کردارونو په حقله غور او فکر ته مجبور کړي او د کردارونو په حقله غور او فکر سره په يقيني توګه د لوستونکو پام ټولنيزو روئيو ته ځي چې د سماجي نفسياتو سره اړه لري، د دې افسانې اخري جملې وګورئ او د دغو دواړو کردارونو په کړۀ وړۀ هم غور وکړئ چې کله معصومې شېرينۍ دپاره شېردل خان د ګجرو راوړلو په معصوم خواهش پوره کولو کښې ناکام شي او د پوليس په هتکړو کښې د شيرينۍ مخې ته راځي نو څۀ وايي.

"مورې بابا مې څۀ شۀ هغې په حيرانتيا پوښتنه وکړه، بهر دې رښمينې په غربوژن اواز کښې ووئيل او چې شېرينۍ ته يې مخ راواړولو نو بيا هغه له کوڅې نه بهر وه او چې شيرينۍ حجرې ته مخامخ شوه نو له ورايه يې خپل پلار وليدۀ هغې ورمنډه کړه او چې د چا ورته خيال کېدۀ نو هغه بيا د پلار غيږ کښې وه، بابا ما له دې ګجرې را نۀ وړې؟ بچې دا دې روان يم هغه له څادر نه لاسونه بهر

راوکښل چې د شيرينۍ په سر يې راکاږي خو ژر يې بيا پټ کړۀ، ځان له دې څنګه ښې ګجرې راوړې دي شيرينۍ ترې څادر راکښلو ما له هم داسې راوړه ښۀ بابا! خو چي دا زنځير ورسره نۀ وي او خداې خبر چي شېردل ولې مسکې شۀ"۱۲.

د قلندر صاحب افسانه "شرم" کښې هم د شفاګۍ کردار هم د دغو ټولنيزو مايوسو تسلسل دې چې د قلندر د افسانو بنيادي موضوع ده شفاګۍ د ټولنې يو داسې کردار دې چې د هغې بې وسۍ پورې معاشره خاندي، د هغې د ناچارو د ازالې په ځاې د هغې کردار د خپلې تفريح سبب جوړوي، د دغه کردار تجزيه ښاغلي محمود اياز په لنډو ټکو کښې داسې کړې ده:

"شرم افسانه ځان له يو خپل تاثر لري ، دا يو سبق اموزه افسانه ده، د شفاګۍ په کردار کښې چې کومه بې وسي او بې وزلي ښکاري هغه د بيل شانې رد عمل او دړد څرګندونه کوي په دې کښې افسانه نګار دا خبره ښکاره کوي چې په ټولنه کښې د چا د بې وسۍ او بدبختۍ سره خلق په څومره ناترسۍ لوبې کوي خو د دې افسانې مجموعي تاثر لږ غوندې پيکه پيکه محسوسيږي حالاتکې افسانه په خپل ځاې مکمله ښکاري سره له دې چې يو پټ طنز په دې افسانه کښې قاري ته دا تاثر ورکوي لکه هغه چې په کټ کټ د شفاګۍ د کلي په خلقو پورې خاندي هم دغه پټ او لوې طنز په دې افسانه کښې يو نوې ژوند او رنګ پيدا کوي"۱۳.

د مامونۍ شنه شوه په خندا شوه کردار پرې زاده د ټولنې د طبقاتي لري بري علامت دې، د "لرګې" افساني کردار پريګۍ هم د سماجي ناهموارۍ مثال را مخې ته کوي او ورسره په پښتنه معاشره کښې د عدم مساوات يا طبقاتي لري بري په پس منظر کښې د ښځينه نفسياتو ترجماني هم کوي چې په دې ټولنه کښې د خانانو او غريبانو د کشمکش په نتيجه کښې او د غربت او

افلاس له مخه د ښځینه ارزوګانو قتل څنګه کیږي او ټولنه څنګه د دغه طبقې استحصال کوي.

د ګجرې د ټولو افسانوي کردارونو نفسیاتي جائزه خو دلته اخستل امکان نۀ لري ځکه چې د نفسیاتي روئیو یا سماجي نفسیاتو دغه جاج د ډېر طوالت متقاضي دې، البته په مجموعي توګه دا وئیلې کېدې شي چې د موضوعاتو په لحاظ د قلندر د افسانو موضوع د معاشي او سماجي لري بري ترجماني کوي نو دغه ترجمانئ ته مونږ د سماجي نفسیاتو په تناظر کښې هم کتلې شو ځکه چې د هغۀ هر کردار د ټولنې د ځنو نفسیاتي روئیو نه وجود مومي او په دغه روئیو جوتولو کښې د قلندر صاحب د ژورې مشاهدې عمل دخل دې، په فني لحاظ که د هغۀ افسانوي کردارونو ته نظر کوو نو څو فني حوالې یې په خصوصي توګه زمونږ مخې ته راځي، د مثال په توګه هغه چې کله د کردارونو په ذریعه د ځنو نفسیاتي روئیو نقاب کشائي کوي نو عموماً د افسانې د ختمېدو نه پس لوستونکي د خپلو کردارونو د نفسیاتي روئیو په حقله په سوچ ضرور مجبوروي چې د افسانې په تلوسه او سسپنس کښې اضافه کوي دغه شان د هغۀ د کردارونو ژبه او مکالمې هم د ستائنې حق لري او په دغه مکالماتي انداز او د ژبې په استعمال کښې هم د لیکوال د مشاهدې عمل بنیادي کردار ادا کوي. قلندر صاحب هر کردار له د خپل عمل، فعل، کردار او مزاج مطابق ژبه ورکړې ده او په دغه فني حربه کښې هغه په هر قدم ډېر کامیاب ښکاري، د هغۀ د هر کردار مکالمې فطري او د کردار د نفسیاتي پس منظر مطابق ډېر سمون خوري چې د افسانوي ادب یوه بله تېکنیکي غوښتنه ده هر څو که د هغۀ د ځنو افسانو په مزاج او کرداري ژبه یا ماحول او پس منظر کامل صاحب ځنې تنقیدونه هم کړي دي خو په مجموعي توګه د قلندر دغه فني حربه هم کامیابه ده،

په دې موقع دا وئيل هم ضروري ګڼم چې نۀ يوازې د قلندر مومند بلکې د پښتو د نورو نوموړو افسانه نګارانو د افسانوي کردارونو نفسياتي جائزه که واخستې شي نو د هغو د متعلقه دورونو سماجي عوامل به رامخې ته شي د کومو عواملو نه چې پښتنه ټولنه په مختلفو وختونو کښې تېره شوې ده، په دې بحث کښې في الحال مونږ دومره قدر وئيلې شو چې د قلندر صاحب افسانې په دغه ميزان پوره خيژي او د هغۀ افساني کردارونه په صحيح معنو کښې د سماجي نفسياتو هېنداره دي.

# حوالې


(۱) اختر، سلیم، ڈاکٹر، مغرب میں نفسیاتی تنقید، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 8۲۰۰ء، ص135، ۱۳۲.

(۲) خليل، حنيف، رانۀ فکرونه، نفسياتي تنقيد، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، جنوري ۲۰۰۲ء ص۴۴، ۴۵.

(۳) کامل، دوست محمد، پېش لفظ، مشموله گجرې (د قلندر مومند) د ساهو ليکونکو مرکه پېښور، اگست ۲۰۰۱ء، ص ۵.

(۴) کامل، دوست محمد، پېش لفظ، مشموله گجرې، ص ۵.

(۵) ايضاً، ص۵.

(۶) داودزې، اياز، ادبي هڅې، نادرن باټلنگ کمپني، پي وي ټي لمټډ پېښور، ۲۰۰۲ء، ص۴۴۵ تا ۴۴۷.

(۷) صابر، ایوب، جدید پشتو ادب، پشتو ادبی مرکز، سرائے نورنگ بنوں، (س ن) ص184، ۱۸۵.

(۸) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنگاري، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء، ص۲۳۲، ۲۳۷.

(۹) اشنا، اسرائيل، پروفېسر، قلندر مومند د افسانه نگار په حېث، مشموله قلندر مومند فن او شخصيت، مرتب م، ر، شفق، پښتو ادبي سوسائټي اسلام اباد، ۱۹۹۶ء، ص۵۱ تا ۵۳.

(۱۰) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقيق او تنقيد، ص۱۳۴.

(۱۱) کامل، دوست محمد، پېش لفظ، مشموله گجرې، ص ج.

(۱۲) مومند، قلندر، گجرې، ص۸.

(۱۳) اياز، محمود، قلندر، د يو افسانه نگار په حېث، مشموله قلندر مومند، د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور، د ادبي دوستانو مرکه مردان، ۲۰۰۰ء، ص ۲۱۹.